# په پېښور کښې پرهر مۀ جوړوه

امجد شهزاد

پېښور چې کله د ګلونو او رنګونو ښار ؤ اوس ئې زړۀ د بم چاؤدنو د زوره چوي. قصه خوانى، هشنغرى، چوک یادګار، کوچي بازار، صدر بازار، ګورا بازار دا داسې کاروباري مرکزونه وو چې ټوله ورځ او د شپې تر ناوخته به په ګڼه ګوڼه او د ژوند د شوره ډک وو. اوس د دې سره سره د پېښور په ټولو بازارونو کښې د ژوند شور نۀ بلکې د مرګ او ویرې نه ډکې چغې سُورې دي او یا ښخې وران ویجاړ خوشې پراتۀ دي لکه چې غلو وهلي وي.

د پېښور د اوسني صورت حال دا ریښه د ایم ایم اې پنځۀ کلن حکومت ته رسي. د ایم ایم اې واکدارانو د ټولو نه اول د ثواب کار دا وکړو چې د صوبې د ټولو نه لوئے د ثقافتي هلو ځلو مرکز نشترهال ئې بند کړو، د ښار د ټولو کاروباري سائن بورډونو نه ئې د بنیادم او په خصوصي توګه د ښځو تصویرونه وران کړل چې د دې نه په ذهنونو کښې فتور پېدا کېږي. د ډېګرى نه ئې فنکاران در په در خاورې په سر کړل چې دوې فحاشي خوروي او د ټولو نه اهمه خبره دا چې د صوبې د ټولو نه ښائسته د سېل ګرى مرکز سوات کښې جاري د اوسنیو شدت پسندو په روانو هلو ځلو ئې ځان ناغرضه کړو او هغوي ته ئې موقع ورکړه چې د خپلو ناوړه مقاصدو پوره کولو د پاره ځان ښۀ برابر او مضبوط کړي. دا هم هاغه تسلسل دے چې په سوات کښې د دوو سوو نه زیات سکولونه په بمونو والوځولي شو او دا هم د هغې ونې ثمر دے چې نن ۳۵ لکه خلق د ډېرې بې وسى په حالت کښې د صوبې په بېلابېلو ځایونو کښې پراتۀ دي. نن چې د هغه عناصرو خلاف حکومت یو اصولي قدم پورته کړے دے نو هم د ایم ایم اې دوه لوئي ګوندونه جماعت اسلامي او جمعیت علماء اسلام د دغې اصولي اقدام مخالفت کوي او وائي چې اپرېشن د



دې مسئلې حل نۀ دے. کوم خلق چې د امن په معنا نۀ پوهېږي، د خبرو اترو د لارې ناشنا وي، پښتو او پښتونولي نۀ پېژني صرف د ټوپک او ګولۍ ژبه وائي نو هغوي لکه چې ځان له په خپله د اپرېشن لاره خوښه کړې وي.



ملاکنډ ډويژن کښې روان د اوسني اپرېشن په ځواب کښې د وطن په ځنو ښارونو کښې بم چاودني يا ځان مرګي بريدونه کۀ غېر متوقع نۀ دي خو د غندني وړ ضرور دي.

د آئي ايس پي آر له خوا د ملا فضل الله د وياند مسلم خان ټېپ شوے فون کال چې د وزيرستان د يو خبرخواه سره ئې خبرې کولې، نه دا خبره جوتېږي چې اوس دوي ضرور نوی صورت حال ته مخ شوي دي ځکه خو د مسلم خان له اړخه دا ګزارش کولے شي چې بم چاودني وکړئ، مرګونه وکړئ، ښارونه وران کړئ او کله چې دا خبره راځي چې سرکاري سيکيورټي سخته ده، "جنګيالي" خپلو هدفونو ته نۀ رسي نو دا ځواب ورکړے کېږي چې په عامو ځايونو کښې چاودني وکړئ خو هله ګوله جوړه کړئ او پېښور کښې په يوه ورځ کښې درې درې چاودني هم کېږي. د پېښور تاريخ قصه خانۍ يا په ۱۹۳۰ء کښې د پېرنګيانو ګورا پلټن د دې وطن د وګړو په وينو سرۀ کړې وه او يا نن له دغه عناصرو له خوا د بې ګناه خلقو په وينو ولمبېده او اوس هم د دغه بازارونو په هر ګوټ پېر او هر بټکي کښې د ويرې ترهې سايې ګرځي راګرځي، کۀ د بېرسکو چاودنه ده نو هم بې ګناه معلمانې او معذوره او بې زبانه ماشومان پکښې مړي او ژوبلېږي چې د خپلو زخمونو او پرهرونو فرياد هم نۀ شي کولے، کۀ د ګورا بازار صدر چاودنه ده نو هم داسې ګلونه وژني چې د خپلو مياندو سره د نېزکو اخستو له راغلي وي.

د پېښور ټول خلق اوس لکه چې په خپل ازاد وطن کښې قېديان دي او کۀ د کوره راوځي نو په هر چوک هر بازار کښې ولاړ د پوليس او فوځ د تلاشۍ د عمل نه تېرېدل د هغوي مجبوري هم ده ځکه چې دا د دغه ادارو او خلقو شريکه ذمه واري هم ده. خو دا سلسله جاري وي چې ۹ جون د پېښور په يوا ځيني فائيوستار هوټل کښې د پېښور د تاريخ د ټولو نه زوروره چاودنه کېږي، ماسخوتن نهۀ نيمې بجې دي چې په شۀ زور ټرک کښې د پنځه سوو کلو ګرام نه زيات بارود د پېښور د ټولو نه اهمې او حساسې علاقې ته رسي او د دومره سختې سيکيورټۍ باوجود پرل کانټيننټل ته ننوځي او چاودنه کوي چې په نتيجه کښې ئې ۷۸ کسان ژوبل

او ۱۹ مړۀ شو او د ثلور چتيز هوټل لويه برخه هم راپرېوته.

دلته دا خبره د سوچ ده چې د پي سي سره جخت په يو دېوال د پېښور د کورکمانډر کور دے، ورسره د آئي جي کور او ګالف کورس دے، پي سي

**د پېښور ټول خلق اوس لکه چې په خپل ازاد وطن کښې قېديان دي او کۀ د کوره راوځي نو په هر چوک هر بازار کښې د ولاړ پوليس او پوځ د تلاشۍ د عمل نه تېرېدل د هغوي مجبوري هم ده ځکه چې دا د دغه ادارو او خلقو شريکه ذمه واري هم ده.**

ته مخامخ د روډ په بله غاړه د پښتونخوا اسمبلۍ،



سپريم کورټ، هائي کورټ، سول سکرټرېټ ودانۍ هم دي. په دومره حساسه علاقه کښې سيکيورټي ولې دومره کمزورې وه. د نورو چاودنو برعکس دا چاودنه د تحريک طالبان له خوا نۀ ده شوې بلکې يو غېر مقبول جنګيالي تنظيم عبدالله عزام بريګېډ ئې ذمه واري قبوله کړې ده. د علاقې دانشوره طبقه د دې چاودنې په شا د درېم لاس ذکر هم کوي چې په دغه تود تنور کښې دغه پښتون دښمنه لاس هم ډوډۍ پورې کړه. وئيل کېږي چې د هوټل دوه پورشنه امريکې د خپلې قونصل خانې د پاره په کرايه اخستي وو او د ټول هوټل د اخستو خبره د هوټل د مالک سره روانه وه او د چاودنه کوونکو اصل هدف امريکه د دغه منصوبې نه لاس په سر کول وو. په چاودنه کښې د يو اين ايچ سي آر د کارکنانو مړينه او ژوبله دا خبره نوره هم قوي کوي. خبره نۀ اوږدوو، دغه لاس دے او کۀ هغه لاس، مقصد د پښتون کور ورانول دي. د پښتون وينه تويول دي بايد چې مونږ دغه لاسونه او د هغوي سره ملاتړ کوونکي ټول تش په نوم سياسي قوتونه وپېژنو او د هغوي د ناوړه دسيسو په لار کښې د خپل خپل وس مطابق دېوال شو.

ما درته ټول عمر د ګلونو ښار وئيلے دے
کله مې پېرزو شې په بمونو پېښوره

## دېرش لکه ابادي، دوه نيم زره پوليس؟

د پېښور دېرش لکه ابادۍ د پاره پوليس نفري پنځۀ نيم زره ده چې درې زره نفري د سرکاري وي آئي پيز په حفاظت مقرر دي، پاتې دوه نيم زره نفري هم چې کله پېښور يا خواوشا کښې اپرېشن وي نو نوره هم کمه شي. په دومره کمه نفرۍ به د دومره لوئے ښار سيکيورټي څنګه يقيني شي. پکار ده چې د نوې برتۍ نه وړاندې د سوات، دير او بونېر پوليس نفري چې په کور تنخوا اخلي، دلته په ډيوټۍ ولګولے شي او د ښار سيکيورټي او امن و امان يقيني کړے شي.